د تِسالونیکیانو په نوم د پولوس رسول دوېم خط

پېژندګلو

دا یو وړوکے خط دے چې پولوس رسول په کښې د نوؤ ایماندارانو د مضبوط ایمان او د مصیبت زغملو باوجود د یو بل سره د مینې برقرار ساتلو تعریف کوی، هغه د حضرت عیسیٰ مسیح د بیا راتګ په حقله هم خبرې اترې کوی. ایماندارانو ته منت کوی چې د کوم مقصد دپاره خُدائ پاک راغوښتی یئ په هغې باندې مسلسل قائم پاتې شئ چې د خُدائ پاک د بادشاهیِ قابل شئ. ځوک چې اوس مصیبت زغمی هغوئ له به عزت ورکړے شی او ظالمانو ته به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سزا مِلاو شی. د حضرت عیسیٰ مسیح راتګ نزدې دے. څۀ خو وائی چې د مالِک خُدائ ورځ راغلې ده، خو دا حقیقت نۀ دے. اول به بغاوت شروع شی او بیا به بې‌شرعې کس څرګند شی. هغه به نبۍ څرګندوی او د دروغو معجزې به کوی، خو ایمانداران به په داسې دوکه بازۍ باندې بې‌وقوفان نۀ جوړیږی. د دې کس طاقت د خُدائ پاک په نظر کښې دے او هغه به د حضرت عیسیٰ مسیح د خُلې په پوکی برباد کړے شی کله چې حضرت عیسیٰ مسیح راواپس شی. هم په هغه وخت کښې به خُدائ پاک پرېږدی هغه خلق چې د دۀ په دوکه کښې راشی څوک چې د مخکښې نه د زیری مخالفت کوی، او خپل ځانونه به په خپله سزاوار کړی. د حفظ کولو دپاره ۱:۱۱ آیت ”مونږ ستاسو دپاره همېشه دُعا کوُو چې زمونږ خُدائ پاک دې تاسو د خپلې بلنې جوګه کړی، او ستاسو د نېکۍ هر یو خواهش او د ایمان هر یو کار دې په خپل قدرت سره پوره کړی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دُعا او سلام

۱ د پولوس او سیلوانوس او د تیموتیوس د طرف نه، د
تِسالونیکیانو د جماعت دپاره خط چې زمونږ د خُدائ پلار او د
مالِک عیسیٰ مسیح دے، ۲ په تاسو دې زمونږ د خُدائ پلار او د
مالِک عیسیٰ مسیح د طرف نه فضل او سلامتی وی. ۳ اے ګرانو
وروڼو او خویندو، ستاسو په حقله مونږ له هر وخت د خُدائ پاک
شُکر ویستل په کار دی، او دا مناسب دی ځکه چې ستاسو ایمان
نور نور زیاتیږی او ستاسو د هر یو مینه د یو بل سره نوره هم زیاتیږی.
۴ په دې وجه مونږ په خپله د خُدائ پاک په جماعتونو کښې په
تاسو فخر کوُو، د هغه ظلم او تکلیفونو دپاره چې تاسو یې زغمئ په
هغو ټولو کښې ستاسو قائموالے او ایمان ظاهریږی. ۵ دا د خُدائ
پاک د رښتونی عدالت ثبوت دے د دې دپاره چې تاسو د خُدائ
پاک د هغه بادشاهۍ لائق ګڼی چې د کوم دپاره تاسو تکلیفونه هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زغمئ. ۶ ځکه چې خُدائ پاک اِنصاف کوونکے دے، هغه به
هغوئ نه ستاسو بدل واخلی څوک چې تاسو له تکلیف درکوی. ۷
او خُدائ پاک به تاسو له آرام درکړی تاسو څوک چې په مصیبت
کښې راګیر یئ او هم مونږ له چې کله مالِک عیسیٰ د آسمان نه
راڅرګند شی. او د خپلو قوتناکو فرښتو سره راشی، ۸ او په شُغله
ناک اور سره به هغه هغوئ له سزا ورکړی څوک چې خُدائ پاک نۀ
پیژنی او زمونږ د مالِک عیسیٰ مسیح زیرے نۀ منی. ۹ هغوئ ته به
د ابدی تباهیِ سزا مِلاو شی او د مالِک د حضور او د جلالی قدرت
نه به هغوئ جدا شی. ۱۰ په هم هغه ورځ کله چې هغه راشی نو
ټول مقدسین به هغۀ له جلال ورکړی او د هغۀ حمد و ثنا به ووائی.
په هغوئ کښې به تاسو هم شامل یئ ځکه چې تاسو زمونږ په
ګواهیِ ایمان راوړے وو. ۱۱ هم په دې وجه مونږ ستاسو دپاره
همیشه دُعا کوُو چې زمونږ خُدائ پاک دې تاسو د خپلې بلنې
جوګه کړی، او ستاسو د نېکیِ هر یو خواهش او د ایمان هر یو کار
دې په خپل قدرت سره پوره کړی، ۱۲ نو بیا به زمونږ د مالِک عیسیٰ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نوم ستاسو د چال چلن په وجه جلال وموميٰ او تاسو به هم ورسره جلال وموئ. دا هر څۀ زمونږ د خُدائ پاک او د مالِک عيسیٰ مسيح د فضل په مطابق وشو.

بې‌شرعي انسان

۱ نو اوس اے ورونو او خويندو، مونږ د خپل مالِک عيسیٰ مسيح د راتلو او د هغۀ سره زمونږ د راغونډېدلو په حقله تاسو ته خواست کوُو ۲ چې تاسو زر پريشانه نۀ شئ او نۀ دې ستاسو وار خطا شی کۀ څوک درته د رويا نه يا د کلام نه او يا زمونږ نه د خط په وسيله ووائی چې د مالِک خُدائ د قيامت ورځ خو راغلې ده، نو تاسو په داسې خبرو باور مۀ کوئ. ۳ څوک دې تاسو په هيڅ طريقه دوکه نۀ کړی. ځکه چې هغه ورځ به تر هغې نۀ راځی ترڅو پورې چې بغاوت شروع نۀ شی او بيا بې‌شرعي کس څرګند نۀ شی، څوک چې د هلاکېدو دپاره مقرر شوے دے. ۴ هغه به د هر يو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

معبود او د عبادت د هر یو څیز مخالفت کوی او خپل ځان به تړې
نه اوچت ګڼی. او هغه به د خُدائ په کور کښې کښېنی او د
خُدایئ دعویٰ به وکړی. ۵ ولې تاسو ته یاد نۀ دی چې کله زۀ لا
تاسو سره وم نو تاسو ته مې دا خبرې کړې وې؟ ۶ او اوس چې
کوم څیز هغه ایساروی تاسو د هغې نه خبر یئ، تر څو چې هغه په
خپل مقرر وخت څرګند شی. ۷ ځکه چې د بې‌شرعې پټ طاقتونه
کار کښې لګیا دی، خو دا به تر هغې کار کوی ترڅو چې د دې
ایسارووونکے لارې نه لرې نۀ شی. ۸ او بیا به هغه بې‌دینه کس
راڅرګند شی، او مالِک عیسیٰ به یې د خپلې خولې په پوکی تباه
کړی، او د خپلو راتلو په جلال به یې تباه کړی. ۹ د دې بې‌دینه
کس راتلل او کارونه به د شیطان په طاقت وی، څوک چې به هر
قسم قدرت، د دروغو نښې او معجزې به ښکاره کوی، ۱۰ او هغوئ
څوک چې هلاکیدونکی دی نو هغه به یې په خپل شرارت سره دوکه
کړی. ځکه چې نۀ هغوئ د حق سره مینه کوله او نۀ یې هغه حق
منلو کوم چې هغوئ ته خلاصون ورکولو. ۱۱ په دې وجه به خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاک هغوئ سخت بې‌لارې کړی او هغوئ به په دروغو یقین ساتی.
۱۲ نو هغوئ څوک چې په حق یقین نۀ کوی بلکې د بدیٰ په
کارونو خوشحالیږی، هغوئ ټول به سزا ومومی.

د خلاصون دپاره غوره شوی

۱۳ خو په مالِک کښې زمونږ ګرانو ورونو او خوښدو، مونږ ته
همېشه ستاسو په حقله د خُدائ پاک شُکر کول په کار دی، ځکه
چې تاسو د خُدائ پاک اولنیٰ د خلاصون غوره کړے شوې مېوه یئ
کوم خلاصون چې د روحُ القُدس په وسیله ملاویږی او هغه تاسو
پاکوی چې په حق ایمان راوړئ. ۱۴ د دې مقصد دپاره هغۀ تاسو
زمونږ د زیږی په وسیله راوبللئ نو چې تاسو زمونږ د مالِک عیسیٰ
مسیح په جلال کښې شامل شئ. ۱۵ نو بیا اے ورونو او خوښدو،
مضبوط شئ او د کوم دستور چې بیا تاسو زمونږ د خولې نه یا مو د
خط په وسیله تعلیم حاصل کړے دے تاسو په هغې قائم پاتې شئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ اوس دې زمونږ مالِک عیسیٰ مسیح په خپله او زمونږ خُدائ پلار
چا چې مونږ سره مینه وکړه او مونږ ته یې د فضل په وسیله ابدی
تسلی او ښۀ اُمید راکړو، ۱۷ هغه دې ستاسو زړونو ته ډاډ ګیرنه
درکړی او په هر نېک کار او خبرو اترو کښې دې تاسو مضبوط
کړی.

زمونږ دپاره دُعا کوئ

۱ نو اے وروڼو او خویندو، زمونږ دپاره دُعا کوئ چې د مالِک
کلام زر خور شی او هر چرته داسې عزت حاصل کړی څنګه چې
یې ستاسو په مینځ کښې حاصل کړے وو. ۲ او دُعا کوئ چې
مونږ د بدو او خرابو خلقو نه بچ پاتې شُو ځکه چې ټول ایماندار نۀ
دی. ۳ خو مالِک وفادار دے، هغه به تاسو تکړه کړی او هغه به
تاسو د شیطان نه بچ کړی. ۴ او ستاسو په حقله زمونږ په مالِک
اعتماد دے چې تاسو اوس هم هغه کارونه کوئ او بیا به یې هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوئ د کوم چې مونږ درته حکم کړے دے. ۵ مالِک دې ستاسو
زړونه د خُدائ پاک په مینه او د مسیح په صبر معمور کړی.

ناراسته خلقو ته خبردارے

۶ اے عزیزانو، مونږ تاسو ته د خپل مالِک عیسیٰ مسیح په نوم
حکم درکوو چې د هغه ایماندارانو سره تعلق مۀ ساتئ څوک چې
ناراسته دی او په هغه تعلیم عمل نۀ کوی چې مونږ هغوئ له ورکړے
دے. ۷ ځکه چې تاسو په خپله خبر یئ چې تاسو ته زمونږ په
نقش قدم ژوند تېرول په کار دی او کله چې مونږ تاسو سره وُو نو
مونږ ناراسته نۀ وُو. ۸ او مونږ د چا روټی مفت ونۀ خوړه بلکې شپه
او ورځ مو خواری او مشقت سره کار کولو نو چې مونږ په تاسو
کښې په چا بوج جوړ نۀ شُو. ۹ مونږ ته دا حق حاصل وو چې
تاسو نه روټی وغواړو بلکې مونږ داسې ونۀ کړل او په کار کولو مونږ
خپل ځان تاسو ته نمونه وکړځولو. ۱۰ ځکه کله چې مونږ تاسو سره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وُو نو مونږ هغه وخت تاسو ته دا حکم درکړو چې څوک کار کول نۀ غواړی نو هغه دې خوراک هم نۀ کوی. ۱۱ خو مونږ اورو چې په تاسو کښې ځینې ناراسته ژوند تېروی او هیڅ کار نۀ کوی او بلکې د نورو په کار کښې هم ګوتې وهی. ۱۲ نو داسې کسانو له مونږ د مالِک عیسیٰ مسیح په نوم حکم ورکوو او ورته دا وایو چې په آرام سره دې خپل کار کوی او خپله روټی دې په خپله ګټی. ۱۳ زما ورونو او خویندو، تاسو په نېک کار کښې همت مۀ بائیلئ. ۱۴ او کۀ څوک په دې خط کښې زمونږ وئیلے شوې خبرې نۀ منی نو هغه په نظر کښې ساتئ او د هغوئ سره تعلق مۀ ساتئ چې هغوئ وشرمیږی. ۱۵ خو هغوئ دشمنان مۀ ګڼئ بلکې د ایماندارانو ورونو په شان نصیحت ورته کوئ.

آخری دُعا او برکت

۱۶ اوس مالِک چې د سلامتیِ سرچینه دے په خپله دې تاسو ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هر وخت او په هر حال کښې سلامتی درکړی. مالِک دې تاسو ټولو
سره وی. ۱۷ زهٔ پولوس په خپل لاس درته دا سلامونه لیکم او زما په
ټولو خطونو کښې د ثبوت دپاره دا زما د لیکلو نښه او طریقه ده. ۱۸
زمونږ د مالِک عیسیٰ مسیح فضل دې تاسو ټولو سره وی.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹